د افغانستان اسلامي امارت
د ارشــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد
دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

**۲۳/ صفر المظفر/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۶ /اسد /۱۴۰۵هـ، ش**

# په اسلام کې د کورني نظام د ساتنې اهمیت او ضرورت

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله ولي الصالحین، وناصر المؤمنین، والصلاة والسلام علی المبعوث رحمة للعالمین ، سید الأولین والآخرین، وخاتم الأنبیاء والمرسلین، نبینا محمد الصادق الوعد الأمین، وعلی آله وصحابته الغر المیامین، وعلی من تبعهم بإحسان إلی یوم الدین، أما بعد.

قال الله سبحانه وتعالی:(وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ اللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ).(۱)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

زموږ د نن ورځ موضوع (په اسلام کې د کورني نظام د ساتنې اهمیت او ضرورت) ده.

کورنۍ نظام د اسلامي ټولنې خصوصیت دی او په غربي نړۍ کې کورنۍ نظام شتون نلري.

کورنۍ د انساني ټولنې لومړنۍ بنسټ او د اسلامي امت د جوړېدو اساسي ستنه ده. الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د کورنۍ په غېږ کې وده وکړي، مینه، شفقت، اخلاق او د ژوند لومړني درسونه زده کړي. همدا کورنۍ د ایمان، تقوا، حیا او ښو اخلاقو لومړنۍ ښوونځی دی.

اسلام کورني نظام ته ځانګړې پاملرنه کړې ده له همدې امله اسلام د کورنۍ د جوړېدو، دوام، اصلاح او ساتنې لپاره داسې اصول بیان کړي چې د نړۍ هېڅ نظام یې ساری نه لري، ځکه د کورنۍ په اصلاح سره ټولنه اصلاح کېږي، او د کورنۍ په فساد سره ټولنه هم د اخلاقي او ټولنیزو ستونزو ښکار کېږي. له همدې امله الله تعالی د مېړه او مېرمنې، مور او پلار، او اولادونو حقوق او مسئولیتونه په خورا حکمت سره ټاکلي دي، ترڅو په کور کې د محبت، رحمت او سکون فضا رامنځته شي.الله تعالی فرمایي:(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً).(۲)

---

۱ -النحل: (۷۲)

۲ - الروم:( ۲۱)

ترجمه: او ځيني له نښو د دغه الله دا دي چې پيدا کړې يې دي تاسې ته له نفسونو ستاسې ښځې (جوړه) لپاره د دې چې په آرام شئ تاسو د دوی سره (او مطمئن اوسئ) او گرځولې يې ده په منځ ستاسې او د ښځو کې دوستي او مهرباني بښکه په دغه (پيدا کولو د مودت او رحمت په منځ د ازواجو) کې

ستاسې ښځې( چې زړه مو ور سره آرام شي) او پيدا کړي يې دي تاسې ته له ښځو ستاسې زامن او لمسي.(چې ستاسې د نوعي د بقاء ذرائع دي نو هر مسـلمان تـه پکار ده چې د خپلې کورنۍ سـاتنـه د يوه شرعي امانت په توگه وگڼي، خپل کور د ايمان، عبادت، ښـه اخلاقو او متقابل احترام مرکز وگرځوي؛ ځکه د امت اصـلاح د کورنۍ له اصـلاح څخه پيلېږي، او د يوې سالمې کورنۍ برکت پر ټولې ټولنې اغېز کوي.

کورنۍ د الله تعالی له سـترو نعمتونو څخه ده. الله تعالی فرمايي:﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِـكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ﴾ [النحل: ٧٢]

ترجمه: او الله پيدا کړي تاسې ته له جنسه)او روزي رزق يې در کړی دی تاسې ته له طيباتو پاکيزه وو څخه

نو کورنۍ يوازې د انسان شخصي اړتيا نه ده، بلکې د الله تعالی يو ستر نعمت او امانت دی.

په دې مبارک آيت کې د کورنۍ درې ستر اهداف بيان شوي دي:
١- سکون (آرام): مېړه او مېرمن د يو بل لپاره د زړه سکون دي. کله چې انسان د ژوند له ستونزو ستړی شي، په خپل کور کې آرام مومي.
٢- مودت (مينه): اسلام غواړي چې د کورنۍ اړيکې د زور، جبر او گټې پر ځای د محبت پر بنسټ ولاړې وي.
٣- رحمت: کله چې عمر زيات شي، ناروغي راشي يا اقتصادي ستونزې پيدا شي، نو رحمت د کورنۍ د دوام سبب گرځي.
همدا وجه ده چې انسي او جني شيطانان کوښښ کوي چې دا د رحمت او مهربانۍ رابطه له منځه يوسي.

په يو حديث شريف کې راځي.رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم فرمايلي دي:«إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَـعُ عَرْشَـهُ عَلَى الْمَاءِ... فَيَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: مَا زِلْتُ بِهِ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ».([٣])
ژباړه: ابليس خپله تختگاه پر اوبو ږدي، خپل لښـکر خپروي...نو يو شـيطان راشي او ابليس ته ووايي: (زه لاړم د ښـځې او خاوند ترمنځ مې اختلاف واچولو) او تر هغې سـړی پرينښـود ترڅو چې دده او دده د ښځې ترمنځ مې جدايې راوستله ،نو ابليس به يې ځان ته نږدې کړي او ورته به ووايې . ته ډير ښه (تا ډير ښه کار کړی دی.).

دا حـديث ښـيي چې د شـيطان تر ټولو سـتر هدف د کورنۍ ماتول دي، ځکه د کورنۍ په ماتېدو سره اولادونه ضـايع کېږي، خپلوي پرې کېږي، او ټولنه له فساد سره مخ کېږي.
د اسـلام مبارک دين د کورني نظام د سـاتنې لپاره يو لړ حقوق او مسـئوليتونه د کورنۍ په غړو باندې ايښـي دي او د کورنۍ له غړو ،خاوند ، ښځې ، مور او پلار او اولادونو څخه يې غوښـتي دي ترڅو په دغو اصولو او اسـاسـاتو عمل وکړي او کورنۍ نظام له پاشلو څخه وساتي ، چې هغه حقوق او مسئوليتونه په لاندې ډول دي:

**الف: د نارينه وو مسئوليتونه:**

[٣] - صحيح مسلم (٨/ ١٣٨)

**۱-اسلام خاوندانو ته امر کړی دی چې د ښځو حقوق رعایت کړي او له ښځو سره نیک ژوند اختیار کړي** . ددې لپاره چې کورنۍ نظام له منځه لاړ نشي ، داسلام مبارک دین سړو ته امر کړی دی چې د ښځو حقوق رعایت کړي چې د ښځو حقوق ځینې واجب دي لکه ښځو ته ډوډۍ ورکول، ښځو ته جامې ورکول ، ښځو ته د اوسیدو کور او مناسب ځای برابرول او ځینې بیا استحبابي دي لکه د ښځې سره غوره سلوک او له ښځو سره په پسته او نرمه لهجه خبرې کول ، ښځې ته په ښه نوم آواز کول او داسې نور.

الله تعالی فرمايلي دي:(وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ).(٤)او شته دی (ښځولره ) حق په شان د هغه حق چې پر دوی باندې مقرر دی (د سړیو لپاره).

امام طبري رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکلي دي:( ولهنّ من حسن الصحبة والعشرة بالمعروف على أزواجهن مثل الذي عليهنّ لهم من الطاعة. وقال الضحاك في قوله:" ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف"، قال: إذا أطعن الله وأطعن أزواجهن، فعليه أن يُحسن صحبتها، ويكف عنها أذاه، ويُنفق عليها من سَعَته).(٥)

ژباړه: او شته دی ښځو لره په خاوندانو باندې حق د نیکه ملگرتیا او په نیکه طریقه باندې زنده گي تیرول لکه څرنگه چې د سړو لپاره شته پر ښځو باندې حق د اطاعت .امام ضحاک رحمه الله وایې: او شته دی ښځو لره پر خاوندانو باندې حق په شان د هغه حق چې پر دوی باندې مقرر دی (د سړیو لپاره) کله چې ښځې د الله تعالی طاعت وکړي او د خاوندانو طاعت وکړي ، نو پر سړیو لازم دي چې نیک ژوند وکړي د ښځو سره او ښځو ته تکلیف رسول بند کړي او د خپل توان په اندازه ورباندې خرچه وکړي.

امام قرطبي رحمه الله لیکلي دي: (ولهن) أي لهن من حقوق الزوجية على الرجال مثل ما للرجال عليهن، ولهذا قال ابن عباس: إنى لاتزين لامرأتي كما تتزين لى).

ژباړه: یعنې شته دی ښځو لره په سړو باندې کورني لکه څرنگه چې په ښځو باندې شته دی سړو لره کورني حقوق. دهمدې وجې نه عبدالله بن عباس رضي الله عنه به ویل: زه ځان ښایسته کوم خپلې ښځې ته لکه څرنگه چې هغه ماته ځان ښایسته کوي .
علماء کرام وایې: چې د سړو زینت د هر عمر لپاره جدا جدا دی، د ځوانۍ زینت یو قسم وي ، د پوخ عمر زینت د ځوانۍ د عمر څخه متفاوت وي او د بوډا والي زینت بیا د نورو عمرونو څخه جدا وي. (٦)
همدارنگه سړو لره په کار دي چې د ښځو سره نیک ژوند وکړي او د ښځو په ناوړه اخلاقو او جفاباندې صبر وکړي .
که چیرې ښځه کومه اشتباه وکړي، نو خاوند لره په کار دي چې د هغې په اشتباه سترگې پټې کړي او له گذشت څخه کار واخلي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا).(٧)

---

٤ -البقرة:( ٢٢٨)
٥ - تفسير الطبري ت شاكر (٤/ ٥٣١)
٦ - تفسير القرطبي (٣/ ١٢٣)
٧ -النساء:( ١٩)

ترجمه: او له دوی سره په نیکه طریقه ګذران کوئ نو که دوی ستاسو خوښې نه وي نو کیدای شي چې تاسو به یو شی بد ګنی او الله به په هغه کې ډیر زیات خیر ایښی وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي». (٨)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل:ستاسو تر ټولو غوره هغه څوک دی چې له خپلې کورنۍ سره غوره چلند کوي، او زه له خپلې کورنۍ سره تر ټولو غوره یم.
ام المؤمنین حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي: «كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ، فَإِذَا سَمِعَ الأَذَانَ خَرَجَ».(٩)، وفي رواية:« كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِي ثَوْبَهُ، وَيَحْلُبُ شَاتَهُ، وَيَخْدُمُ نَفْسَهُ».(١٠)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کور کې د خپلې کورنۍ خدمت کاوه کله به یې چې د لمانځه آذان واوریدلو له کوره به ووتلو.

په بل روایت کې راځي چې نبي علیه السلام انسان ؤ د انسانانو له جملې څخه خپلې جامې به یې ګنډلې او خپله چیلۍ به لوشله ، او د ځان خدمت به یې کولو.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې ښځو ته نیکه توصیه وکړئ او له زور څخه کار مه اخلئ.

په حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«استَوصُوا بِالنُّساءِ ؛ فَإِنَّ المَرأَةَ خُلِقَت مِن ضِلَعٍ، وَإِنَّ أعوَجَ شَيءٍ فِي الضِّلَعِ أعلاَهُ ؛ فَإِن ذَهَبتَ تُقِيمُهُ كَسَرتَهُ، وَإِن تَرَكتَهُ لَم يزَل أعوَجَ، فَاستَوصُوا بِالنُّساءِ».(١١)

ترجمه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د ښځو سره ښه چلند وکړئ ، ځکه ښځه د پوښتۍ څخه پیدا شوې ده او بیشکه ډیره کږه پوښتۍ هغه پورتنۍ پوښتۍ ده، که ته وغواړې چې هغه سمه او نیغه یې کړې، نو ماته به یې کړې او که په خپل حال یې پریږدې، نو کږه به وي ، نو ښځوته په نیکۍ توصیه وکړئ.

امام نووي رحمه الله ددې حدیث په شرح کې لیکي:(وَفِي هَذَا الْحَدِيث مُلَاطَفَة النِّسَاء وَالْإِحْسَان إِلَيْهِنَّ وَالصَّبْر عَلَى عِوَج أَخْلَاقهنَّ وَاحْتِمَال ضَعْف عُقُولهنَّ ، وَكَرَاهَة طَلَاقهنَّ بِلَا سَبَب وَأَنَّهُ لَا يَطْمَع بِاسْتِقَامَتِهَا).(١٢)

ژباړه: په دې حدیث کې د ښځو سره نرمي کول او هغوی سره نیکي کول او دهغوی د اخلاقو په کوږوالي صبر کول او د هغوی د عقلونو کمزوري تحمل کول او دهغوی بې دلیله د طلاقولو بدي پرته ده او داچې د هغوی د سیده والي توقع دې نه کیږي.

په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په هره ښځه کې ښه خویونه هم شته او بد خویونه هم شته که چیرې څوک دښځې په یو خوی باندې ستومانه شي ، نو په بل به راضي شي.

---

٨ - سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٧٠٩)
٩ - صحيح البخاري (٧/ ٦٥)
١٠ - مسند أحمد ط الرسالة (٤٣/ ٢٦٣)
١١ - متفق عليه
١٢ - شرح النووي على مسلم (٥/ ٢٠٧)

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِىَ مِنْهَا آخَرَ ».(١٣)

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: باید مؤمن سړی د مؤمنې ښځې څخه نفرت ونه کړي، که چیرې د ښځې یو خوی یې بدي شو، نو راضي به شي د ښځې په بل خوی باندې.

**٢-د اختلاف په صورت کې اسلام خاوند او ښځې ته هدایت کړی دی چې په خپلو منځونو کې صلحه او مصالحه وکړي.** که چیرې ښځه د خاوند څخه سرکشي کوي او نافرماني کوي ، نو مخکې له دې چې هغه طلاقه کړي ، باید خاوند کوښښ وکړي چې د ښځې ته نصیحت وکړي ، که چیرې په نصیحت اصلاح نشوه ، نو بستره دې ورڅخه جدا کړي که چیرې په دې هم اصلاح نشوه ، نو د ښځې کورنۍ ته دوایې چې هغه اصلاح کړي .

الله تعالی فرمایلي دي: (وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا).(١٤)

ترجمه: او هغه ښځې چې ویریږئ تاسې له سرکشۍ (بد ګزرانۍ) د دوی نه نو نصیحت وکړئ دوی ته او پریږدئ تاسې دوی په ځای د خوب کې ( که په نصیحت سمې نه شوې) او ووهئ تاسې دوی (که په بېلتون هم سمې نه شوې). نو که اطاعت یې وکړ (غاړه یې کیښوده) تاسو ته نه مه لټوئ تاسې پر دوی باندې لاره (د ضرر او اذیت)بېشکه الله دی ډېر پورته ډېر لوی ( له ټولو اشیاوو).

که چیرې په دې هم اصلاح نشوه ، نو ددواړو کورنۍ خپلوان دې کیني او ددوی دواړو ترمنځ دې مصالحه وکړي ترڅو کورنۍ نظام وساتل شي.

په یو حدیث کې د هغې ښځې لپاره چې خاوند ورڅخه ناراضه وي سخت وعید ذکر شوی دی. «مَا مِنَ امْرَأَةٍ يَطْلُبُ مِنْهَا زَوْجُهَا حَاجَةً، فَتَأْبَى فَيَبِيتُ، وَهُوَ عَلَيْهَا غَضْبَانُ، إلا بَاتَتْ تَلْعَنُهَا الْمَلائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ».(١٥)

ژباړه: نشته داسې ښځه چې وغواړي ورڅخه خاوند کوم حاجت (کوروالی) او هغه ښځه انکار وکړي او ویده شي په داسې حال کې چې خاوند ورباندې په قهر وي ، مګر داچې شپه به دغه ښځه تیره کړي په داسې حال چې ملائکې به ور باندې ترسهار پورې لعنت وایي.همدا رنګه که چیرې سړي د ښځې حقوق نه پرځای کول او له ښځې څخه یې مخ اړولی ؤ، نو ښځه دې له خاوند سره مصالحه وکړي ترڅو کورنۍ نظام له منځه ولاړ نشي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا).(١٦)

ترجمه: او که کومه ښځه ویرېده له میړه خپله د سرکشۍ (د حقوقو په منع او دصحبت په ترک) یا د مخ ګرځولو (له مجلسه او خبرو)پس نشته ګناه پر دغو دواړو په دې کې چې صلح وکړي دوی پخپلو منځونو کې یو شان صلح او صلح کول خیر (ډېر

---

١٣ - صحیح مسلم (٤/ ١٧٨)

١٤ -النساء: ( ٣٤)

١٥ -المعجم الأوسط (٨/ ٩٤)

١٦ النساء: ( ١٢٨)

غوره) دي. او حاضر کړی شوی دی په زړونو کې حرص (او د زړونو په منځ کې بخیلي موجوده ده).او که نیکی وکړئ تاسې له خپلو ښځو سره او پرهیز وکړئ تاسئ له نشوزه او خصومته نو بېشکه چې الله دی هغه شي چې کوئ يې تاسې له محبته او خصومته ښه خبردار نو دتاسې د عمل سره به سمه جزا درکړي

د ښځې او سړي د اختلاف په صورت کې قرآن کریم ددواړو کورنیو ته لارښوونه کوي چې ددواړو کورنیو له خوا نه دې يو يو حَکَم مقرر شي ترڅو ددوی ترمنځ صلح وکړي.( وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا).(۱۷)

ترجمه:او که وویرېږئ تاسې له مخالفت څخه په منځ د میړه او ښځې کې نو ور ولیږئ (مقرر کړئ تاسې) يو منصف له خپلوانو د دې سړي او بل منصف له خپلوانو د دې ښځې نه.که اراده لري دغه (زوجین یا حکمین) د اصلاح او جوړښت نو موافقت به پیدا کړي الله د دغو (زوجینو) په منځ کې بېشکه الله دی ښه عالم ( د زوجینو په مصالحو هم) ښه خبر دار (د حکمینو په مقاصدو هم).

همدارنگه اسلام له نظره خاوند ته جائز نه دي چې ښځه پرېږدي او د هغې حقوق نه پرځای کوي او ځان ورڅخه خپه کړي ، یا په ښځه لعنت ووايي . که څوک له خپلې ښځې څخه ناراضه شي ، نو کولای شي چې بستره ورڅخه جدا کړي ، خو ددې اجازه ورته نشته چې ښځه معلقه پرېږدي .

په حدیث شریف کې راځي. عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِىِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ قَالَ « أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ - أَوِ اكْتَسَبْتَ - وَلاَ تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلاَ تُقَبِّحْ وَلاَ تَهْجُرْ إِلاَّ فِى الْبَيْتِ ». قَالَ أَبُو دَاوُدَ « وَلاَ تُقَبِّحْ ». أَنْ تَقُولَ قَبَّحَكِ اللَّهُ.(۱۸)

ژباړه: د حکیم به معاویه القُشیرې د خپل پلار معاویه قشیري رضي الله عنه وايې چې ما وویل ای دالله رسوله! زمونږ پر يوه کس باندې د هغه د ښځې څه حق دی؟ نبي علیه السلام راته وفرمایل: د ښځې په خپل خاوند دا حق دی چې ته ښځې ته خوراک ورکوې چې کله خوراک درڅخه وغواړي او جامه به ورته ورکوې چې کله درڅخه لباس وغواړي (په بل عبارت کې راځي چې کله ته کسب وکړی) او نه به يې په مخ باندې وهي او قبیحه به ورته نه وايې او بستره به ورڅخه نه جدا کوې، مگر په کورکې.

**۳-داسلام مبارک دین خاوند او ښځې د کورني اسرارو او رازونو له افشاء کولو څخه منع کړي دي.** اکثره وخت د خاوند او ښځې ترمنځ خپگان په دې رازي چې خاوند د خپلې ښځې اسرار او رازونه خلکو ته ښکاره کړي .نو د اسلام مبارک دین خاوند او ښځې دواړو ته دا لارښوونه کړی ده چې ښځه او خاوند دواړه باید يو د بل رازونه له خلکو پټ وساتي.

په حدیث شریف کې راځي. عن أَبي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِي إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا».(۱۹)

---

[۱۷] - النساء:( ۳۵)

[۱۸] - سنن أبی داود-ن (۲ /۲۱۰)

[۱۹] - صحیح مسلم (۲ /۱۰٦۰)

ژباړه: د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بيشكه ترټولو شريرترين له خلكو څخه د الله تعالى په نزد دځاى په اعتبار سره د قيامت په ورځ هغه سړى دى چې نږدې كيږي خپلي ښځې ته (كوروالى ورسره كوي) او دده ښځه ده ته نږدې كيږي او بيا د هغې ښځې راز افشاء كوي.

**٤-داسلام مبارك دين خاوندانو او پلرونو او ورونو ته امر كړى دى چې ښځو ته په ميراث كې برخه وركړي.** په كورني نظام كې اكثره وخت اختلاف له دې امله وي چې ښځې دميراث څخه محروموول شي او كومه ښځه چې دميړه ، اولاد له ميراث څخه محرومه شي نو بيا په هغه كور كې بې نظمي او خپګانونه پيدا كيږي. په داسې حال كې چې ددې جنجالونو مخه د اسلام مبارك دين څوارلس سوه كاله دمخه ډب كړى ده او ښځه يې د نارينه په شان د ميراث له مستحقينو څخه ګرځولې ده.
الله تعال فرمايلي دي:(يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ).(٢٠)
ترجمه: حكم كوي تاسې ته الله په ( حق د ميراث د)اولاد ستاسې كې چې (تاسې مړه شئ) شته نارينه لره له ميراثه په مثل د برخو د دوو ښځو.

**٥-د اسلام مبارك دين خاوندان مكلف كړي دي چې دښځو ترمنځ عدالت مراعت كړي.** په كورني نظام كې اخلال هغه وخت رامنځ ته كيږي چې كله خاوند د ښځو ترمنځ عدالت نه رعايتوي ، نو په دې كار سره په كور كې اختلافات رامنځ ته كيږي .

د اسلام مبارك دين ددې لپاره چې كورنى نظام وساتل شي سړى يې د ښځو ترمنځ په عدالت كولو مكلف كړى دى. الله تعالى فرمايلي دي:(وَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلا تَعُولُوا). (٢١)

ترجمه: كه چيرې تاسو ددې څخه ويره لرى چې د يتيمانو ښځو په نكاح كولو سره به انصاف ونه كړى، پس په نكاح كړئ نورې هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي دوه دوه، درى درى، څلور څلور، كه چيرې ددې څخه ويريږى چې له يوې څخه د زياتو ښځو په منځ كې به عدالت تامين نه كړى بيا يوه ښځه په نكاح كړئ او يا هغه وينزه په نكاح كړئ چې ستاسو په لاسونو كې دي، دا حكم دې ته نږدې ده چې تاسو به ظلم ونه كړى.

په يو بل آيت كې الله تعالى فرمايلي دي:(وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً).(٢٢)

ترجمه: او تاسو هيڅكله نشي كولاى چې پوره عدالت تامين كړى د ښځو په منځ كې اګركه ډير حرص هم ولرى، بياهم مكمل يوې ښځې ته (اختياري) ميلان مه كوئ داسې چې بله ښځه معلقه وساتى چې نه يې په نكاح كوى او نه ورته طلاق وركوى، كه چيرې تاسو صلح وكړى او له الله وويريږى بيشكه الله تعالى دى ښنونكى مهربانه.

په يو حديث شريف كې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« مَنْ كَانَ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ لِإِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَدُ شِقَّيْهِ مَائِلٌ».(٢٣)

---

٢٠ -النساء: (١١)
٢١ - النساء: (٣)
٢٢ - النساء:(١٢٩)
٢٣ - سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي (٧/ ٧٤)

ترجمه:د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی؛ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دچا چې دوه ښځې وي او یوې ښځې ته د بلې په نسبت (اختیاري) میلان کوي د قیامت په ورځ به راشي او یو بازو به یې کوږ وي.

پاته دې نه وي په نصوصو کې چې د کوم میلان څخه ممانعت راغلی دی، دهغې څخه اختیاري میلان مراددی؛ ځکه په غیر اختیاري میلان کې مواخذه نشته.

علامه کاساني رحمه الله فرمایي: ددغه مسائلو له جملې څخه یو هم د ښځو ترمنځ د عدالت د وجوب موضوع ده. خلاصه داچې که څوک له یوې څخه اضافه ښځې ولري پرهغه واجب دي چې دهغوی ترمنځ دشپې په نوبت کې، نفقه او لباس کې عدالت مراعت کړي. تر دې پورې چې که دچا دوه آزاده ښځې وي او یا هم دوه وینځې ولري پرده واجب دي چې ددوی ترمنځ دشپې په نوبت کې ، نفقه کې ، مسکن کې ، خوراک او څښاک کې عدالت مراعت کړي.( [٢٤])

همدا رنګه د ښځو دحقوقو په اړه دجلالتمآب امیر المؤمنین حفظه الله ځانګړی فرمان داسې حکم کوي: (کوم څوک چې متعدد ودونه ولري، مکلف دی چې ټولو ښځو ته د شرعي حکم سره سم شرعي حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل ورکړي).

**٦-اسلام مبارک دین طلاق نه خوښوي او خاوندان باید د بې ځایه طلاق ورکولو څخه ځان وساتي.** طلاق په اسلام کې روا دی، خو د اړتیا پر مهال او د وروستۍ حللارې په توګه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«أَبغَضُ الحَلاَلِ إلی اللهِ عزَّ وجلَّ الطَّلَاَقُ».([٢٥])

ژباړه: په حلالو کارونو کې مبغوض ترین حلال کار هغه طلاق دی.

که څه هم د دې حدیث د سند په اړه د محدثینو ترمنځ اختلاف شته، خو د شریعت ټولیزه لارښوونه دا ده چې بې ضرورته طلاق نه خوښوي او د کورنۍ د ساتلو هڅونه کوي.
له طلاق مخکې باید: نصیحت وشي.صبر وشي.خپلمنځي خبرې وشي.د دواړو کورنیو له لوري منځګړي وټاکل شي.

## ب: د ښځو مسئولیتونه:

د اسلام مبارک دین د کورني نظام د ساتلو په موخه ښځو ته هم د یو لړ مسئولیتونو سپارښتنه کړی ده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:
**١-داسلام مبارک دین ښځوته امر کړی دی چې د خپلو خاوندانو اطاعت وکړي :** ددې لپاره چې کورنۍ نظام تل پاتې او له زوال څخه وساتل شي، د اسلام مبارک دین پر ښځه لازم کړي دي چې د خپل خاوند د مشروع اوامرواطاعت وکړي او د هغه هدایاتو ته پابند پاتې شي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ).([٢٦] )

ترجمه:سړي په ښځو باندې نګرانان دي په سبب ددې چې الله ددوی ځینې په ځینې نورو باندې غوره کړي دي او په سبب ددې چې دوی(سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي.

[٢٤] - بدائع الصنائع (٢/ ٣٣٢)
[٢٥] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٣/ ٥٠٥)
[٢٦] - النساء :( ٣٤)

په یو بل آیت کریمه کې الله تعالی فرمايي:( وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ).(٢٧)

ترجمه: او شته دی سړیو لپاره پر هغو ښځو باندې درجه او الله ډیر غالب ښه حکمت والا دی.

دا "درجه" د ظلم او استبداد معنا نه لري، بلکې د کورنۍ د رهبرۍ، نفقې او مسئولیت معنا لري.

په حدیث شریف کې راځي: وعن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «إِذَا صَلَّتِ المَرأَةُ خَمسَهَا، وَصَامَت شَهرَهَا، وَحَفِظَت فَرجَهَا، وَأَطَاعَت زَوجَهَا، قِيلَ لَهَا : أدخُلِي الجَنَّةَ مِن أيِّ أبوَابِ الجَنَّةِ شِئت».(٢٨)

ژباړه: له عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هر کله چې ښځه خپل پنځه وخته لمونځونه اداکړي او د رمضان د میاشتې روژې ونیسي او خپل عورت ( له حرامو) وساتي او د خپل خاوند اطاعت وکړي، ورته به وویل شي جنت ته داخله شه له هرې دروازې چې غواړې.

**٢-داسلام مبارک دین ښځو ته امر کړی دی چې په کورونو کې پاتې شئ او د خاوندانو له اجازې پرته له کوره مه وځئ.**

ددې لپاره چې کورنۍ نظام له سقوط څخه وژغورل شي، د اسلام مبارک دین ښځو ته امر کړی دی چې په کورونو کې پاتې شي او د خاوندانو له اجازې پرته له کوره ونه وځي. الله تعالی فرمايلي دي:(وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى).(٢٩)

ترجمه: او تاسو په خپلو کورنو کې قرار ونیسئ او تاسو د ړومبنې جاهلیت د زینت ښکاره کولو په شان زینت مه ښکاره کوئ.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «المَرْأَةُ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ».(٣٠)

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی ، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمايل: ښځه عورت دی ، کله چې ووځي له کوره ، نو وريسې شي شیطان.

امام کاساني رحمه الله لیکلي دي:(وَمِنْهَا مِلْكُ الْحَبْسِ وَالْقَيْدِ وهو صَيْرُورَتُهَا مَمْنُوعَةً عن الْخُرُوجِ وَالْبُرُوزِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {أَسْكِنُوهُن } وَالْأَمْرُ بِالْإِسْكَانِ نَهْيٌ عن الْخُرُوجِ وَالْبُرُوزِ وَالْإِخْرَاجِ إذْ الْأَمْرُ بِالْفِعْلِ نهى عن ضِدِّهِ). (٣١)

ژباړه: او دخاوند له حقوقو څخه مالکیت د بند پاتې کیدو دی (په کورونو کې) او هغه داسې چې بندول د ښځې دي له وتلو څخه بیرون ته ځکه الله تعالی فرمايي: چې ښځې و اوسوئ (په کورونو کې) او امر په اسکان نهی ده د خروج او بیرن ته له وتلو څخه او بیرون ته له ویستلو څخه ځکه چې امر په کار باندې نهی وي د ضد څخه.

**٣-اسلام له ښځو غواړي چې دخاوندانو خدمت وکړي.** داسلام مبارک دین ښځو ته لارښوونه کړې ده چې د خپلو خاوندانو خدمت وکړي او دخاوندانو خدمت دیانةً پر ښځو واجب دی.

امام ابن عابدین رحمه الله لیکلي دي: ( لان هذا العمل من الواجب عليها ديانة لان النبي (صلى الله عليه وسلم) قسم الاعمال بين فاطمة وعلي، فجعل عمل الداخل على فاطمة وعمل الخارج على علي رضى الله عنه).(٣٢)

---

٢٧ - البقرة: (٢٢٨)

٢٨ - مسند أحمد (٣/ ١٩٩)

٢٩ - الاحزاب:(٣٣)

٣٠ - سنن الترمذي ت شاكر (٣/ ٤٦٨) صحيح ابن خزيمة (٣/٩٣). قال الهيثمي في المجمع:( ٢/ ٣٥) ورجاله موثقون

٣١- بدائع الصنائع (٢/ ٣٣١)

٣٢ - حاشية رد المحتار (٦/ ٣٤٧)

ژباړه: څکه کار کول د واجباتو څخه دي په ښـځه باندې دیانةً ؛ څکه رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم کارونه د حضـرت علی رضـي الله عنه او فاطمې رضـي الله عنها ترمنځ تقسـیم کړل ، دکور کارونه یې حضـرت فاطمې رضي الله عنها ته حواله کړل او د بیرون کارونه یې حضرت علي رضي الله عنه حواله کړل.

**۴-اسـلام ښـځو ته هدایت کړی دی چې کورته هغه څوک داخل نکړي چې خاوند یې بد ګڼي.** ډیری وخت خاوند له یو چا سـره جوړ نه وي ، نو د اسـلام مبارک دین ښـځو ته لار ښـوونه کړی ده چې داسـې کس ته دداخلیدو اجازه ورنکړي چې خاوند یې نه غواړي ترڅو د ښځې او خاوند ترمنځ کومه نزاع او اختلاف رامنځ ته نشي او د کور نظام خراب نشي.

په حدیث شـریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِـيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُـولَ اللَّهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ».(۳۳)

ژباړه: دابوهریره رضـي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل: ښځې ته جایز نه دي روژه ونیسـي (نفلي روژه) په داسـې حال کې خاوند یې په کور کې وي مګر د خاوند په اجازه به یې نیسـي او جائز نه دي ښـځې ته چې چاته کورته دداخلیدو اجازه ورکړي مګر دخاوند په اجازه.

په یو بل حدیث شـریف کې راځي رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلي دي:«فَاتَّقُوا اللَّهَ فِى النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لاَ يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ».۳۴

ترجمه: وویریږئ دالله تعالی څخه دښـځو په باره کې بیشـکه تاسـې اخیسـتي دي ښـځې دالله تعالی په امان سـره یعنې الله تعالی تاسـې امین ګرځولی یاسـتې په ښـځو باندې) او تاسـو حلال ګرځولي دي ددوی شـرمګاه لره په شـریعت دالله تعالی سره، او شـته دی سـتاسـو لپاره په دوی باندې ددې خبری حق چې ښـځه به اجازه نه ورکوي هیچا ته ددې خبرې چې اسـتعمال کړي بستره ستاسې هغه څوک چې تاسو یې بد ګڼی.

**۵-داسلام مبارک دین ښځو ته هدایت کړی دی چې دخاوند پټ رازونه وساتي او هغه خلکو ته افشاء نکړي.**

**٦-داسـلام مبارک دین ښـځو ته توصـیه کړی ده چې د خاوند په غربت باندې صـبر وکړي او د کور د اقتصـادي مشکلاتو په اړه چاته شکایت ونکړي.**

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمین**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

---

۳۳ - صحیح البخاري (۱۳/ ۱٤۹)

۳٤ - صحیح مسلم (٤/ ۳۹)